محمد معصوم هوتک

۲۰۱۷/۰۲/۲۵

# سید جمال الدین افغان په کندهار کي

## دریمه برخه ( دوهمه تکمِله)

د دې مقالي د دوهمي برخي له خپرېدو سره سم ښاغلي ډگرمن احمد قندهاری په " افغانستان آزاد" سایټ کي زما دهمدې مقالي د لومړی برخي په کندهاري علماوو کي د راغلي" ملامحمدی" په باب چي پېژندنه ئي ماته معلومه نه وه، خورا ډېر گټور معلومات په دري ژبه وړاندي کړي دي (۱) چي زه به ئي د خپلو تېرو لیکنو په تعقیب یو لږ څه نور هم وشنم. دوی پخپله لیکنه کي د نورو تفصیلاتو ترڅنگ لیکي :" ملا "محمدی" از ردیف مشاهیر علمی یا ملا های آن دوران و در بین فارسی زبانان قندهار مشهور به ملا" محمد اخند" شخص معززی بوده و با احترام زیسته اند ... ملا" محمداخند" که ریشه قومی اش بلوچ بوده در دوران نوجوانی از کجران ارزگان رو به شهر می کند و به شهر کندهار به تنهائی سکونت اختیار می نماید. به گفته محاسن سفیدان ما نخست در مسجد " صبرها" که در گذر علیزائی ها موقعیت دارد من حیث طلبه به آموختن علوم دینی آغاز می نماید ... به گمان اغلب و به جرأت باید تذکار نمود که "سیدافغان" از ملا"محمدی" که یاد آور گردیده همین ملا" محمد" فارسی زبان می باشد... ملا "محمد" بعد از دسیسه سازی انگلیس ها در شهر قندهار و به شهادت رسیدن فرزند بزرگ ملا " محمد" که دبیر خزانه دولتی بود برای مدتی مهاجر در کویته بلوچستان شد ولی باز هم به وطن برگشت و در توپخانه شهر قندهار سکونت گزید... محل دفن و مقبره اش در تکیه زیارت " پیر دکنی" و یا پیر " غلام علی شاه" تا اکنون در حالت مخروبه باقی مانده است"....

په دې اوړده اقتباس کي زما له پاره څو ځایه ډېر مهم دي.

یو داچي له سیدجمال الدین افغان سره د کتونکو علماوو د یوه داسي عالم په باب معلومات راکوي چي که څه هم لیکوال ئي د علمي احتیاط په حکم د " گمان اغلب" په قید راوړي، خو تر هغو چي ددغه " گمان اغلب" په رد کي نور موثق معلومات تر لاسه سوي نه وي، موږ همدغه " گمان اغلب" د " یقین کامل" په توگه منو او ښاغلی ډگروال احمد قندهاری چي د همدغه معزز عالم له " احفادو" څخه دئ، د ډېر سپاس او امتنان وړ دئ. زه ورڅخه ممنون سوم.

دوهمه خبره داده چي وایي دغه " ملا محمد اخند" په خټه بلوڅ فارسي زبان وو. ماته پخوا هم دا حقیقت معلوم وو چي د کندهار په فارسي زبانانو کي بلوڅان هم سته. له دغو بلوڅو فارسي زبانانو څخه یو هم زما مرحوم و مغفور استاد حاجي محمد خان وو، چي په ( حاجي بابا) مشهور وو. مرحوم حاجي بابا د کندهار د معارفو یو پخوانی خدمتگار وو او وروستی وظیفه ئي د کندهار په عالي دارالمعلمین کي د فارسي ادبیاتو استادي وه. حاجي بابا په فارسي ادبیاتو کي د خپل وخت مرجع وه او پر خپل مضمون مسلط استاد وو . په انگرېزي ژبه کي ئي صلاحیت درلود او د شخصیت په لحاظ دروند سړی وو. د حاجي بابا پلار محمد ایوب بلوڅ د استقلال غزا د سپین بولدک په محاذ کي د سید نورمحمد شاه اغا تر بیرغ لاندي سر په لاس غازي وو. سید نورمحمد شاه اغا د کندهار د سدوزو په کوڅه کي اوسېدی پلار ئي سید وهاب شاه اغا نومېدئ. سید نورمحمد شاه اغا پر غازي امان الله خان ډېر گران وو(۲)

وایي چي ملا محمد اخند د علیزو کوڅي د " صبرها" په مسجد کي درس لوستی وو. د علیزو کوڅه د کندهار ښار د سدوزو کوڅي په لویدیځ امتداد کي واقع وه. د صبرو مسجد ددي کوڅي په پای کي وو. د صبرو مسجد ئي ځکه باله چي د صبر وني پکښي ولاړي وې. په دغه مسجد کي اوس د کندهار " اشرفیه مدرسه" جوړه سوې ده.

دریمه خبره "دسیسه سازی انگلیس ها در شهر قندهار" ده. د ښاغلي ډگرمن احمد قندهاری د مقالي لوستونکي ښایي د کندهار په ښار کي د انگلیسانو د همدغي دسیسي په باب سمدستي ونه پوهېږي چي د لیکونکي مراد څه دئ؟ دا مسئله به زه یو څه وڅېړم. کله چي امیر امان الله خان د خپلي تاجپوشۍ په لومړی ورځ له انگلیسانو څخه د بشپړي خپلواکۍ اخیستلو اعلان وکړ، د غزا یوه جبهه هم د کندهار سپین بولدک وو چي په هغه وخت کي ئي ( قلعه جدید) باله. د کندهار اولس په ډېر جوش او خروش، ځوان و سپین ږیري، مشر و کشر، پښتون و فارسیوان، هندو و مسلمان، نر او ښځو په یوه ږغ د غزا اعلان ته لبیک وواېه او مخ ئي پر سپین بولدک ونیو. زه له تفصیل څخه تېرېږم او اصل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

مطلب ته راځم. انګلیسانو د خپلو ایجنټانو پر لاس د غزا د جبهې د قُوّتُ الظهر د کمزوره کولو په نیامت یوه دسیسه جوړه کړه او هغه دا چي د کندهار ښار د بامیزو کوڅې د لوڼانو مسجد دیوه محترم اوسېدونکي سید بادار اغا ماشوم زوی سید عبدالرؤف ئې وواژه او مړی ئې په توپخانه بازار کي د ( بولکي قربانعلي) د کور د سراچې مخي ته په امبارو کي ښخ کړ او په ښار کې چوکچوکه واچوله چي فارسیوانانو کوچنی شهید وژلی او په امبارو کې ښخ کړی دئ.د کندهار اولس احساساتي سو. بولکی قربانعلي ئې له کوره راویوست او وئې واژه او وروسته ئې د فارسیوانانو په کورو چور ګډ کړ. دې دسیسې خپل تاثیر وښانده خو د کندهار پښتنو او فارسي ژبانو مشرانو او عالمانوئې ډېر ژر مخه ونیوله. دا بلوا د کندهار په تاریخ کي د ( کوچني شهید بلوا) بلله سوې ده. بولکی قربانعلي په دولت کي د مامور مالیه وظیفه درلوده. له سراجي عصر څخه د کندهار ښار دننه سیمه پر څو ( بولکانو) وېشل سوې وه. هر ( بولک) خپل مسئول درلود او د خپل محل مالیه ئې له خلکو څخه ټولوله او ددولت
خزانې ته ئې تسلیموله. دغه مامور ته ئې ( بولکی) وایه چي ښاغلي ډګرمن احمد قندهاري هغه " دبیر خزانه دولتی" لیکلی دئ او مرحوم قربانعلي فارسیوان د خپلي سیمي ( بولکی) وو. دده کور د توپخانې بازار د مرکزي چوک په شمالي کوڅه کي وو او دا کوڅه هم د ( بولکي کوڅه) نومېدله(٣). ددې کوڅې وروستی نوم ( دشاه قبر کوڅه) وه.
اوس خبر نه یم چي په همدا نامه یادېږي که یه؟
ما (هوتک) چي د خپل مهربان استاد مرحوم علامه رشاد( د کندهار یاداښتونه) نومی ضخیم اثر له مسودې څخه چاپ ته آماده کاوه (٢٠٠٥ ع)او د کوچني شهید په بلوا کي د ( بولکی قربانعلی) نامه ته را ورسېدم، نو مي ډېره تلوسه وه چي ددغه مظلوم شهید د کورنۍ په باب معلومات ترلاسه کړم. خو له بده مرغه نه د علامه رشاد په یاداښتو کي ددغي کورنۍ په باب څه وه او نه هم ما له نورو منابعو څخه څه وموندل. اوس چي د ډګرمن احمد قندهاري په همت په دې خبر سوم چي قربانعلي مرحوم د ملا محمد اخند مشر زوی وو، نو مي هغه سودا رفع سوه. له ښاغلي ډګرمن صاحب څخه چي ددغي کورنۍ په احفادو کي دئ، هیله من یم چي په دې باب خپل نور خانداني روایات تر هغه ځایه چي زموږ له ملي تاریخ لیکني سره مرسته کوي،هم د محققینو په واک کي ورکړي.
څلرم خبره دملا محمد د قبر او هدیرې ځای دئ چي د (پیر دکني) زیارت تکیه ښوول سوی دئ. لکه ښاغلي ډګرمن صاحب چي لیکلي دي، د پیردکني زیارت د کندهار ښار د توپخانې بازار د لویدیځ چوک پر مخامخ د پخوانۍ فرقې دروازې ته څرمه د البیروني لیسې شاته واقع دئ. د پیر دکني نوم میر غلام علی شاه وو او د نسب سلسله ئې سید جلال الدین بخاري ته رسېدله. سید جلال الدین بخاری د سید محمد نقوی اکا کېدي. میر غلام علی شاه د لوی احمدشاه بابا د تاجپوشۍ پر وخت کندهار ته راغلی وو. لوی احمدشاه بابا ئې زیات درناوی کاوه. د کندهار د اهل تشیع یوه محترم مشر عالم حاج شیخ حسن مولوی قندهاري (١٣١٩ ـ ١۴١٩ هـ ق) دخپل کتاب " ګلزار قندهار" په ٧۴ ـ ٨۵ مخونوکي د میر غلام علي شاه (پیر دکني) د خوارقو او کراماتو ډېر بیانونه لیکلي دي. دغه تکیه چي ښاغلی ډګرمن احمدي صاحب ئې بیان کوي، پیر دکني صاحب پخپل ژوند کي جوړه کړې او شامۍ ئې پکښې کیندلې وه. څنګ ته ئې یو کوچنی مسجد هم ودان کړی وو.
د شیخ مولوي قندهاري کتاب " ګلزار قندهار" د نجف اشرف په مطبعه النعمان کي چاپ سوی دئ. دغه کتاب په مجموع کي د کندهار د مشایخو او زیارتو په باب د استفادې وړ ماخذ دئ خو ځیني د تامل وړ خبري هم لري. شیخ مولوي قندهاري خپل استاد میر عبدالجوادشاه اغا بولي.د کابل پوهنتون پخوانی استاد او د ادبیاتو پوهنځي رئیس پوهاند میر حسین شاه اغا د همدغه میرعبدالجواد شاه اغا زوی دئ.
زه ددغو متفرقو معلوماتو په پای کي له خپل همشهری ښاغلي ډګرمن احمد قندهاري څخه په " عالم ناشناسی" کي مننه کوم چي ما او نورو لوستونکو ته ئې زموږ د ښار د تاریخ د یوې څنډې په څېړنه کي ګټور معلومات راکړل. کور دې ودان وي.
په دې ډول نو اوس موږ په کندهار کي له سیدجمال الدین افغان سره ملاقات کوونکي علماء له یوه تن " ملاعبدالحق طل" پرته نور ټول پیژنو.

---

)١ (ددغي مقالې لینک زما دانشمند دوست ښاغلي حفیظ الله خان کرزي راولېږه.
)٢(وګ : کندهار د تاریخ په اوږدوکي ( د مقالو مجموعه)، ٣٨١ مخ، ١٣٨۴ ش
)٣ (وګ د کندهار یاداښتونه ، دوهم ټوک ، ١٩٩ مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ